# د وزیرستان اپرېشن
# مقاصد او نتائج

محمد الیاس خان




جنوبي وزیرستان د طالبان محسود ګروپ او القاعده اهم مرکز ګڼلے کېږي. د مذکوره ګروپ او القاعده د انتها پسندو خلاف د پاکستاني فوځ د کارروایۍ د ټولو نه اهم مقصد په وطن کښې د انتهاپسندۍ ختمول دي.

د تجزیه کوونکیو مطابق په دغه علاقه کښې د خالي د ورځې نه شروع شوې لویه کارروایي تر ننه شوو کارروایو کښې تر ټولو سنجیده قدم دے او د دې هدف د انتهاپسندو جرړې وېستل دي. فوځ چې تر اوسه کومه حکمت عملي اختیار کړې ده، د هغې نه دا نتیجه په اسانه اخستې کېدې شي چې دا ځل د پاکستان سیکیورټي فورسز په دې معامله کښې لکه د ملاکنډ د روان اپرېشن سنجیده او محتاط دي. د دې نه وړاندې چې دغلته کومې کارروایۍ شوې وې د هغې نه صفا پته لګېده چې دا په نۀ زړۀ بې ترتیبه غوندې هلې ځلې دي چې اکثر به بې نتیجې ثابتې شوې.

د دې لوېې کارروایۍ نه اول تر ځلورو میاشتو د دغه علاقې محاصره شوې وه او د نقل مکانۍ د پاره د عامو خلقو ډاډګېرنه کېده او انتهاپسندو ته د تګ راتګ موقعه په لاس نۀ ورتله. په دې دوران کښې فوځ د محصورو علاقو سره لګېدلې شمالي او جنوبي وزیرستان د وزیر قبائلو په علاقو کښې موجود انتها پسند په دې خبره اماده کړل چې هغوي د محسودو په سیمه کښې د کارروایۍ نه یو طرفته پاتې شي.



اوس فوځ جنوب مشرق او جنوب مغرب کښې د دوؤ مقررکړې شوو ځایونو نه داسې پېش قدمي





شروع کړې ده چې انتهاپسند د مکین لدها
علاقې ته وردیکه کړي هلته ئې راګېر کړي او
یو فېصله کن جنګ ورسره وکړي.

دې دوران کښې فوځ دا هم کوشش کوي
چې د علاقې خاص او اهم انتها پسند د عامو
حامیانو د یوې لویې برخې نه جدا وساتي او
دوي ته د حمایت او مرستې ټولې لارې بندې
کړي. په دې حواله چې فوځ کوم پالیسي بیان
جاري کړے دے، په هغې کښې وئیل شوي
دي چې د دې کارروایۍ اهم مقصد د مینځنۍ
ایشیا نه راغلي ازبک او د مشرقي وسطیٰ او
شمالي افریقې نه راغلي بهرني جنګیالیو خلاف
قدم پورته کول، د هغوي خاتمه کول او مقامي
جنګیالي په وسله غورځولو مجبورول دي او کۀ
دوي د وسلې غورځولو نه انکار وکړي نو دوي به د
فوځ په اهدافو کښې اخري ترجیح وي. د دې پېغام
واضحه مطلب دا دے چې کوم جنګیالي چې لږ کم
انتها پسند دي هغوي اهم او خاص دهشت ګرد
یواځې پرېږدي.

د دې نه پس به د اهمو انتهاپسندو سره صرف
دوه لارې پاتې شي یوه خو دا چې دوي وجنګېږي او
خپل عبرت ناک انجام ته
ورسي او بله دا چې د دې
علاقې نه وتښتي او د خپلې
برخې جنګ بلې ورځې ته
پرېږدي خو في الحال صورت
حال دا دے چې انتهاپسند د
فوځ د مخکښې تګ په
دواړو لارو کښې مورچه زن
دي.

د تجزیه کوونکیو اکثریت وائي چې جنګ به
ډېر شدید وي خو ځنې تجزیه کاران دا هم وائي چې
د ریګولر پاک فوځ او ټیک ټیک په خاصو خاصو
ځایونو د هوائي جهازونو بمبارۍ ته به انتهاپسند
تر ډېره وخته ټینګ نۀ شي او دوي به هم لکه د
سوات د طالبانو د چاپه مار او ګوریله جنګ شروع
کړي خو د سوات او ملاکنډ د نورو علاقو برعکس
به د جنوبي وزیرستان انتهاپسندو ته په داسې
ناسازګاره علاقه کښې جنګ کول وي ځکه چې
دلته یو خو اوبۀ کمې دي او د ځنګلونو پناهي هم
نشته نو ځکه غالب امکان دے چې د بهرنیو
انتهاپسندو سره سره مقامي طالبان هم دا علاقه
پرېږدي او وتښتي او دا
امکان زیات دے چې دوي
د ګومل درې په لاره د
بلوچستان په وسیعو او
خورو ورو دشتو کښې ورک
شي. د دې نه علاوه ځنې
لکي او بنو طرف ته وتښتي
او په دغه اړخ دوي تر



میرعلي تلے شي چرته چي یو وخت د عرب جنګیالیو مرکزونه وو او یا بیا نور جنوب اړخ ته د اورکزو علاقې ته هم تلے شي چرته چې د محسودو انتهاپسندو خپل ځایونه دي.

ځنو مغربي مبصرینو دا ویره هم ښکاره کړې ده چې په دې علاقه کښې موجود د القاعده تربیت یافته بم جوړونکي که د دې ځائے نه وتښتېدل نو پوره دنیا کښې به في الحال د غېرمتحرکو ډلو سره شامل شي او په مغرب به د حملو دپاره د دوي په صلاحیت کښې د اضافې راوستلو سبب جوړ شي.

تر څو چې د پاکستان د فوځ تعلق دے نو د دوي دپاره به د جنوبي وزیرستان د کامیاب اپرېشن نه پس اورکزۍ او دره ادم خېل کښې هم اپرېشن کول لازمي وي چې انتهاپسند د رد عمل په توګه په جوابي کارروایو کښې پېښور په نخښه نۀ کړي.

تر اوسه دا خبره واضحه نۀ ده چې په ممکنه توګه بلوچستان ته تښتېدونکیو انتها پسندو سره به څۀ کېږي او د شمالي وزیرستان د حقاني نېټ ورک پاکستانۍ ادارې او د هغې سره د تړلو نورو انتهاپسندو ګروپونو په حقله څۀ ارادې لري.





د یوې مودې نه د دفاعي مبصرینو رائې ده چې شمالي وزیرستان کښې ګل بهادر ګروپ، جنوبي وزیرستان کښې د وزیرو د علاقې ملا نذیر او بېت الله محسود ګروپ چې اوس حکیم الله محسود ګروپ دے، د القاعده د حقاني نېټ ورک برخه ده.

او سنے اپرېشن صرف د محسودو د علاقې پورې محدود دے کومه چې د لوئے او پراخه وزیرستان څلورمه برخه ده او د افغانستان د پُولې نه لرې لرې هم ده. په افغانستان کښې د محسودو جنګیالو کردار ډېر محدود پاتې شوے دے، د دوي زیاته توجه په پاکستان کښې په حملو او بم چاؤدنو پاتې شوې ده. د دې برعکس د حقاني نېټ ورک نورو ګروپونو وخت په وخت د پاکستاني فوځ سره لوظنامې کړې دي او د دوي زیاته توجه په افغانستان کښې په کارروایو کولو ده.

دا سې ښکاري چې دې ګروپونو په دې خبره رضامندي ښکاره کړې ده چې دوي د محسودو طالبانو په خلاف کارروایۍ کښې هیڅ مداخلت نۀ کوي خو آیا په دې خبره امریکنیان هم رضا دي؟

(د بي بي سي ډاټ کام په مننه)